د راپور ورکولو موده: ۲۰۲۳ کال د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰مې نېټې

## مهم ټکي

- په جنوري میاشت کې د اړمنو خلکو شمېر له ۲۸.۳میلیونو څخه په مې میاشت کې ۲۹.۲ میلیونه خلکو ته لوړ شوی، تر ډېره پورې دا شمېره د هغو خلکو د زیاتوالي له امله لوړه شوې چې د خوندیتوب ځانګړو خدماتو ته اړتیا لري.
- د روان کال په لومړۍ نیمایي کې، یونیسف له ۲۰ میلیونو څخه ډېرو خلکو (۵۰ سلنه) ماشومانو ته د لومړنیو روغتیایي او تغذیې خدماتو په برخه کې رسیده‌ګي کړې.
- له جنورۍ میاشتې څخه تر جون میاشتې پورې نږدې ۸ میلیونه ماشومان د ګرځنده او ثابتو روغتیایي مرکزونو له لارې د شدیدې خوارځواکۍ د تشخیص په موخه معاینه شوي. د نږدې ۳۵۰۰۰۰ ماشومانو (۵۶سلنه نجونو) د شدیدې خوارځوکۍ درملنه پیل شوې. د روان کال له لومړۍ نیمایي سره د تېر کال د ورته مودې پرتلنه څرګندوي چې یونیسف او همکارو ادارو یې له ۳۱ سلنې ډېر ماشومان چې شدیده خوارځواکي یې درلوده، درملنه کړې.
- د ۲۰۲۳ کال له جنورۍ میاشتې څخه تر جون میاشتې پورې یونیسف د ۳۴ ولایتونو له ډلې په ۳۱ ولایتونو کې د محلي زده‌کړو د ۱۹۶۵۴ ټولګیو له لارې له ۶۳۳۰۰۰ څخه زیاتو ماشومانو (۶۰سلنه نجونو) ته زده کړو ته د لاسرسي خدمتونه وړاندې کړي .

## د تمویل عمومي کتنه او مشارکت/همکارۍ

د ۲۰۲۳ کال د جون میاشتې تر ۳۰مې پورې، په افغانستان کې د ماشومانو لپاره د یونیسف د بشردوستانه مرستې غوښتنه ۴۷ سلنه تمویل شوې. په دې کې د دولتي او خصوصي ادارو لخوا انعطاف وړ بېړنۍ تمویل شامل دی چې دا یونیسف ته د دې وړتیا ورکوي ترڅو د مخ په ډېرېدونکو او ناڅاپي اړتیاوو ته د غبرګون لپاره سرچینې وکاروي. یونیسف د افغانستان د بیارغونې له وجهي صندوق (ARTF) څخه چې نړیوال بانک یې اداره کوي، د متحده عربي اماراتو د ولسمشر او د ابوظبۍ له واکمن جلالتمآب شیخ محمد بن زاید آل نهیان او د یونیسف لپاره د ملي کمېټو له لوېي کورنۍ څخه په جون میاشت کې د ترلاسه شوو مرستو په موخه مننه کوي. پر دې سربېره، یونیسف د آلمان، هالنډ، ناروې، سویډن او د امریکا د متحده ایالاتو او همداراز له انفرادي تمویلوونکو څخه چې د نړۍ په کچه د یونیسف لپاره د اصلي سرچینو په توګه مرسته کوي ځانګړې مننه کوي. یونیسف به له تمویلوونکو سره همکارۍ ته دوام ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې په افغانستان کې د ماشومانو او ټولنو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کافي سرچینې تجهیز شوې. د تمویل بېړنۍ او جدي کمښت خورا زیانمنو ماشومانو او کورنیو ته د ژوند ژغورونکو اقداماتو د لاسرسي په برخه کې د یونیسف وړتیا له ګواښ سره مخ کړې، په ځانګړې توګه د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي او د ماشومانو د خوندیتوب په برخه کې.

## د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

افغانستان د هغو هېوادونو له ډلې دی چې طبیعي خطرونه لکه زلزلې، سېلابونه، واورې ښویېدونې، ځمک ښویېدنې او وچکالۍ پکې ډېرې رامنځته کېږي چې د ډېرې زیانمنو خلکو په ځانګړې توګه د ماشومانو او مېرمنو پر ژوند ویجاړوونکي اغېزې لري او موجوده زیانونه یې لا پسې پېچلې کړي دي. د دغو خطرونو تکرار او شدت د اقلیم د بدلون د اغېزو او د بشري اړتیاوو د زیاتوالي له امله ډېرېږي.

د سېلابونو موسم معمولاً په مارچ میاشت کې پیلېږي؛ که څه هم، په فبېروري میاشت کې د بادغېس ولایت په مُقُر او قادس ولسوالیو کې سېلابونه راوتلي دي. د ۲۰۲۳ کال له مارچ میاشتې څخه تر جون میاشتې پورې په ګڼو ولایتونو کې د سېلابونو د ګڼو پېښو راپور هم ورکړل شوی چې له امله یې د کورونو او سړکونو زیربناوو ته زیان اوښتی او په ځینو مواردو کې یې خلکو او څارویو ته هم زیان اړولی دی. د مې میاشتې پر ۶مه د ننګرهار ولایت په کامې او ګوشتې ولسوالیو کې ۵۰۰ کورنۍ اغېزمنې شوې چې څلور تنه یې مړه او ۱۰ ټپیان شول. په وردګو ولایت کې سېلابونو څه باندې ۴۰ کورونه زیانمن کړي دي. د مې پر ۱۳مه د سمنګان ولایت په ساراباغ ولسوالۍ کې ۳۲ کورونه ویجاړ شول او د لوګر ولایت په پل علم ولسوالۍ کې ۴۶ کورنۍ زیانمنې شوې. د خوست ولایت په متون، ګربزو، باک او صبریو ولسوالیو کې دېرش کورنۍ زیانمنې شوې دي. په غور ولایت کې سېلابونو څلور تنه وژلي او لس کورونه یې زیانمن کړي دي. د جون پر ۲۶مه د پکتیکا ولایت په اورګون، زرغون شهر او یوسف خېلو ولسوالیو کې د ناڅاپي سېلابونو راوتلو خبر ورکړی چې په پایله کې یې دوه تنه وژل شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي. په پروان ولایت کې د سېلابونو له امله ۱۴۸ کورونه زیانمن شوي او زرګونه هکتاره کرنیزه ځمکه ویجاړه شوې ده. د جون پر ۲۸مه او ۲۹مه په کاپیسا ولایت کې ۱۶۷ کورونه زیانمن شوي او ۵۰۰ هکتاره کرنیزه ځمکه ویجاړه شوې ده.

د روان کال په لومړۍ نیمایي کې پر افغان ښځینه مرستندویه کارکوونکو د بندیز له امله رامنځته شوي پېچلي عملیاتي چاپېریال، د مهمو مرستو رسولو مخه نیولې او تر ټولو زیانمنو کسانو ته د رسیده‌ګۍ لپاره یې د همکارو بشري ادارو د وړتیا مخه نیولې. د بندیزونو تر وضع کولو وروسته د خوندیتوب چاپېریال هم په پام وړ ډول خراب شوی. د بدلېدونکو عملیاتي شرایطو په غبرګون کې په مې میاشت کې د بشري غبرګون د پلان بیا کتنه وشوه. د خوندیتوب د وضعیت خرابېدو ته په پام، په مې میاشت کې د بشري مرستو لپاره د اړمنو کسانو شمېر په اټکلي ډول ۲۹.۲میلیونو ته لوړ شو (د کال په پیل کې له ۲۸.۳ میلیون څخه ۳ سلنه زیاتوالی ښيي).

په داسې حال کې چې تر ژمنۍ رخصتۍ وروسته په مارچ میاشت کې ښوونځي پرانیستل شول، خو د نجونو پر منځنیو زده کړو بندیز لاهم نه دی لیرې شوی. تر اوسه په دې اړه هېڅ داسې نه ښکاري چې آیا دغه بندیز به لیرې شي او کنه. یونیسف له واکمنو چارواکو، له خپلو کارکوونکو، تخنیکي پراختیا ورکوونکو او همکارانو سره د دوامدار مشارکت له لارې د وضعیت څارنې ته دوام ورکوي. په جون میاشت کې، د پوهنې وزارت نړیوالو نادولتي موسسو ته شفاهي

لاربښوونه وکړه چې خپل پروګرامونه ملي نادولتي مؤسسو ته وسپاري. د ښوونې او روزنې د کلستر سرپرستۍ اداري (د ماشومانو د خوندیتوب اداره او یونیسف) د ټولو نادولتي مؤسسو لپاره د دوامدارې عملیاتي فضا د رامنځته کولو په موخه له حاکمو چارواکو سره همکاري کوي.

د خوراکي خوندیتوب په لړلید کې پر لړ زیاتوالي سربېره ، اټکل کېږي چې د ۲۰۲۳ کال له مې میاشتې څخه تر اکتوبر میاشتې پورې به نږدې ۱۵.۳ میلیونه خلک (د ټول نفوس ۳۵ سلنه) د خوراکي نا امنۍ له ناورین او بېړنیو کچو سره مخ شي (د ډلبندۍ شوي خوراکي خوندیتوب د پړاوونو ډلبندي ۳م او ۴م پړاو).

د کال لومړۍ دوې میاشتې د ژمي له سختې یخنۍ سره مل وې او هغه زیانمن کسان چې له ورانديې څخه بېلابېلو ناورینونو زیانمن کړي وو، تر فشار لاندې راوستل او شدید تنفسي انتانات په ژمي کې د تېرو څلورو کلونو په پرتله تر ټولو لوړ شول. په جنورۍ میاشت کې، د شدیدو تنفسي انتاناتو د ۴۶۰۷۲۰شکمنو قضیو او له دې امله د ۳۰۶ کسانو د مړینې راپور ورکړل شوی. تر پنځه کلنۍ ټیټ ماشومان په غیر متناسب ډول اغېزمن شوي، چې له ۶۵ څخه تر ۷۵ سلنې پورې قضیې د ماشومانو په دغه عمر کې دي. پر دې سربېره، په ډېری ولایتونو کې د نورو ناروغیو خپرېدلو دوام درلود. د ساري ناروغیو ښودونکي [د ناروغیو د شمېر او خپرېدو ښوودونکی سیستم] له لسمې اونۍ راهیسې د بدن د اوبو له کمښت سره د شدید نس ناستې د قضیو په شمېر کې زیاتوالی ښیي[2]. د جنورۍ او جون میاشتې ترمنځ د ۳۴ ولایتونو په ۳۲۴ ولسوالیو کې د بدن د اوبو د کمښت او د شدید نس ناستې د ۸۵۲۲۸ قضیو را پور ورکړل شوی چې په هغو کې ۴۰ موارد د مړینې دي (د مړینې کچه یې ۰.۰۵سلنه ده). د ډېری شکمنو پېښو (۸۲.۸سلنه) په اړه په ۱۲ ولایتونو کې راپور ورکړل شوی[3]. په ټولیزه توګه، د بدن د اوبو د کمښت او د شدید نس ناستې ترټولو ډېر شمېر قضیو (۲۸۲۱۸) په اړه په کابل او ورپسې هلمند (۷۹۸۷) او بغلان ولایتونو (۶۳۰۷) کې راپور ورکړل شوی.

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

له جنورۍ تر جون میاشتې پورې، یونیسف له ۲۰ میلیونو څخه ډېرو خلکو (۵۰سلنه ماشومانو) ته روغتیایي او د تغذیې خدمتونه وړاندې کړي. په همدې موده کې، یونیسف ۲.۱۸ میلیونه خلکو ته د کوویډ-۱۹ واکسین لومړنۍ ډوز او ۲ میلیونه نورو کسانو ته تقویتي ډوز ورکړی. یونیسف په همدې موده کې په کابل کې په اندرا ګاندي روغتون کې د اکسیجن د تولید یوه دستګاه هم نصب کړه.

په جون میاشت کې، یونیسف په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ۲۳۷۶ ثابتو روغتیایي مرکزونو له لارې د لومړنیو، منځنیو او درېیمې درجې روغتیایي خدماتو وړاندې کولو ملاتړ ته دوام ورکړ. له دې ډلې، یونیسف په نهو ولایتونو کې د ۵۹۴ روغتیایي مرکزونو د ډېرو اغېزناکو اقداماتو لپاره ملاتړ وکړ چې په هغو کې تر زیږون وروسته د ویښې د بهېدو پر مخنیوی او درملنه، د نویو زیږېدلو ماشومانو له عفونت څخه پر مخنیوي او د زیږون پر کنټرول تمرکز شامل دی. له ۶.۳ میلیونو څخه ډېرو خلکو (۵۰سلنه ماشومانو) په دغو مرکزونو کې اړین روغتیایي او د تغذیې خدمتونه ترلاسه کړي. په جون میاشت کې، د یونیسف کارکوونکو او پراختیا ورکوونکو د ۷۳۴ روغتیایي مرکزونو څارنه وکړه ترڅو د دوی فعالیت او د ناروغ د رضایت ارزونه وکړي. نږدې ۹۶ سلنه ارزول شوو روغتیایي مرکزونو د تغذیې خدماتو د شتون راپور ورکړی. د مراجعې د خدماتو لپاره په اړوندو ۹۵ مرکزونو کې د فعالو امبولانسونو راپور ورکړل شوی؛ یوازې ۵۶ سلنه روغتیایي مرکزونو راپور ورکړی چې پاکو اوبو ته لاسرسی لري. یونیسیف د شاوخوا ۲۷۰۰۰ روغتیایي کارکونکو لپاره د تنخواوو د ورکړې ملاتړ ته دوام ورکړی چې تر ۱۰۰۰۰ ډېرې ښځینه روغتیایي کارکوونکې پکې شاملېږي.

په جون میاشت کې یونیسف د سپینو/له خدماتو څخه د محرومو سیمو[4] د نقشه کولو د تمرین د اجرا له امله، د ګرځنده روغتیایي او تغذیې ټیمونو د کاري وضعیت د ښه کولو او د بودیجې/تمویل د محدودیتونو له امله د دغو ټیمونو شمېر له ۱۷۱ څخه ۱۰۳ ته راټیټ کړ. په جون میاشت کې، د یونیسف په ملاتړ ګرځنده روغتیایي او د تغذیې ټیمونو په لیرې پرتو او سخت العبوره سیمو کې له ۱۴۸۰۰۰ څخه ډېرو خلکو ته روغتیایي او د تغذیې خدمتونه وړاندې کړل. څه باندې ۷۰۳۰۰۰ ماشومان د شري (سرخکانو) پر وړاندې واکسین شوي دي او شاوخوا ۹۶۰۰۰ ماشومانو ته د پېنتا والېنټ ۳ یا پنځه ګونی واکسین شوی دی او په ۱۵ ولایتونو کې له یو میلیون څخه زیات کسان د کوویډ-۱۹ پر وړاندې واکسین شوي دي. د شدید نس ناستې د قضیو د ډېرېدو په غبرګون کې، یونیسف په اپریل میاشت کې په ټول هېواد کې له خوراکي لارې د بدن د اوبو د بېرته پوره کېدو په اړه د معلوماتو ورکولو د مرکزونو شمېر له ۲۳۲ څخه ۲۳۵۰ ته لوړ کړ او د کولرا د درملنې د مرکزونو شمېر یې په اپریل میاشت کې له ۵۲ څخه په جون میاشت کې ۱۵۴ ته لوړ کړ.

### تغذیه

یونیسف له پنځه کلنۍ څخه د ټیټو هغو کم عمره ماشومانو د درملنې لپاره له ۳۲۰۰ څخه ډېرو د خدماتو وړاندې کولو له مرکزونو سره مرسته کوي له شدیدې خوارځواکۍ سره مخ دي. له جنورۍ څخه تر جون میاشتې پورې د ګرځنده او ثابتو روغتیایي مرکزونو له لارې له ۸ میلیونو څخه ډېر ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ لپاره معاینه شوي. له ۳۵۰۰۰۰ څخه ډېر ماشومان (۵۶سلنه یې نجونې دي) چې له شدیدې خوارځواکۍ سره مخ دي درملنه شوي (د کلنۍ موخې ۴۰ سلنه). کله چې د ۲۰۲۳ کال لومړۍ نیمایي د تېر کال له ورته مودې سره پرتله کړئ، یونیسف او همکارو ادارو له ۳۲ سلنې څخه د ډېرو ماشومانو د شدیدې خوارځواکۍ درملنه کړې. یونیسف له ۵۸۱۰۰۰ څخه زیاتو ماشومانو ته (د کلنۍ موخې ۲۸سلنه) تقویتي پوډر وېشلي. یونیسف همداراز د تغذیې په اړه ۱.۶ میلیونو پالونکو ته له زیږون تر ۲۳میاشتو عمر لرونکو ماشومانو لپاره د مور، نوي زیږېدلي او ماشوم تغذیې په اړه د مشورې ورکولو خدمات وړاندې کړي چې دا د کلنۍ موخې د ۶۹سلنې ښکارندویي کوي. یونیسف د مور، نوي زیږېدلي او ماشوم تغذیې په اړه د لومړۍ کرښې ۵۸۰ روغتیایي کارکوونکې روزلي او ۳۰۷۲ نور یې د کورنۍ د بدني اندازه ګیرۍ (د مټ اندازه‌ګیرۍ) طریقې په اړه روزلي، چې په پایله کې یې ۳۹۰۰۰ میندو ته روزنه ورکړه. پر دې سربېره، د کال په لومړۍ نیمايي کې ۱۲۰۰۰ ټولنیز روغتیایي کارکوونکي او ټولنیز روغتیایي

---

[2] د مارچ میاشتې له ۵مې تر ۱۱مې.

[3] کابل، هلمند، بغلان، کندهار، جوزجان، خوست، پکتیا، غزنې، فراه، ننګرهار، زابل او هرات.

[4] دا سخت العبوره سیمې دي چې محدود خدمات لري.

ځارونکې د ټولنيزې تغذيې پروګرام د پلي کولو په اړه روزل شوي. پر دې سربېره، د تقويتي پوډر د وېشلو په اړه ۴۴۰۰ ټولنيز روغتيايي کارکوونکي روزل شوي او ۲۱۲۳ ټولنيز روغتيايي کارکوونکي د اوسپنې او فوليک اسيد د اونيزو بشپړوونکو پروګرامونو په اړه روزل شوي.

هغه کليدي ننګونې چې د کال په لومړۍ نيمايي کې ليدل شوي د مرستو او لېږد د ملي معياري ځارنې او ارزونې (SMART) سروې ځنډول او د ساده درملنې د پروتوکول (STP) په اړه ملي خبرتيا او همداراز د ښاري تغذيې د بېړني پروګرام د دوام او پراختيا لپاره محدود تمويل شامل دی. يونيسف له عامې روغتيا وزارت سره همکارۍ ته دوام ورکوي ترڅو د درملنې د ساده پروتوکول په اړه د خبرتيا پلي کول بيا پيل کړي.

په جون مياشت کې، د ګرځنده او ثابتو روغتيايي مرکزونو له لارې د ۱.۳ ميليونو څخه ډېر ماشومان د شديدې خوارځواکۍ د تشخيص په موخه معاينه شول. ۶۲۲۴۰ معاينه شوي ماشومان (۵۷سلنه نجونې دي) چې شديده خوارځواکي يې درلوده د درملنې لپاره بستر شوي. د تقويتي پوډرونو د وېش دوه کمپاينونه په ختيځو او مرکزي سيمو کې شوي چې ۳۵۰۰۰۰ ماشومانو[5] ته دغه پوډر وېشل شوي دي. يونيسف له زېږون تر ۲۳مياشتو عمر لرونکو شاوخوا ۲۶۵۰۰۰ماشومانو لپاره د مور، نوي زېږېدلي او ماشوم تغذيې په اړه د مشورې ورکولو خدمات وړاندې کړي. پر دې سربېره، په کنړ ولايت کې د تغذيې په برخه کې د نغدو پيسو د لېږد پروګرام له لارې ۱۸۰۰ امېندوارو مېرمنو ته رسيده ګې وشوه. يونيسف د تغذيې د ټولنيز پروګرام د تطبيق په اړه ۱۳۳۹ ټولنيز روغتيايي کارکوونکي (۴۷سلنه ښځې دي) روزلي. پر دې سربېره د تقويتي پوډر د وېش په اړه ۳۸۷۰ ټولنيز روغتيايي کارکوونکي روزل شوي او ۲۱۲۳ ټولنيز روغتيايي کارکوونکي د اوسپنې او فوليک اسيد د اونيزو بشپړوونکو پروګرامونو په اړه روزل شوي.

## زده کړې

له جنورۍ څخه تر جون مياشتې پورې، يونيسف د ۳۴ ولايتونو له ډلې په ۳۱ ولايتونو کې د ۱۹۶۵۴ محلي ټولګيو له لارې ۶۳۳۰۰۰ ماشومانو (۶۰ سلنه نجونو) ته د زده کړې خدمتونه برابر کړي دي، چې د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر مياشتې په پرتله د دغو ټولګيو په شمېر کې ۳۰ سلنه زياتوالی څرګندوي. يونيسف له تطبيق کونکو همکارو ادارو سره کار کولو ته دوام ورکوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د کال تر پايه په ټولو ۳۴ ولايتونو کې ۲۰۰۰۰ محلي ټولګي فعاليت وکړي. يونيسف په دولتي ښوونځيو کې تدريسي او درسي مواد او درسي کتابونه وېشلي، چې نږدې ۳.۸ ميليونه ماشومان (۳۸ سلنه نجونې) ګټه ترې اخلي، چې د کلنۍ موخې ۷۶ سلنه جوړوي. د نجونو لپاره د لومړنيو زده کړو بنديزونه دوام لري او په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د نجونو لپاره هېڅ منځني ښوونځي نه دي پرانيستل شوي.

په جون مياشت کې، يونيسف د ۱۹۶۵۴ محلي ټولګيو له لارې له ۶۳۳۰۰۰ څخه له ډېرو ماشومانو (۶۰ سلنه نجونو) سره مرسته کړې، چې د مې مياشتې په پرتله د دغو ټولګيو په شمېر کې لس سلنه زياتوالی راغلی دی. يونيسف په دولتي ښوونځيو کې د تدريسي او درسي موادو او درسي کتابونو د وېش له لارې له نږدې ۴۴۵۰۰۰ زده کونکو (۳۹سلنه نجونو) سره مرسته کړې. يونيسف په ختيځو سيمو کې د ښوونکو زده کړې ته د نجونو د لاسرسي پروګرام له لارې ۲۰ نويو ښځينه زده کونکو ته تر خدمت دمخه او د خدمت په جريان کې د ښوونکو د روزنې پروګرام ته لاسرسی برابر کړی دی. د روان کال له پيل راهيسې، يونيسف په مرکزي، لويديځو او ختيځو سيمو کې د ښوونکو روزنې ته د نجونو د لاسرسي پروګرام له لارې ۱۴۳۸ زده کوونکو دا روزنه اخيستې.

## د ماشوم ساتنه، په بېړنيو شرايطو کې د جنسيتي تاوتريخوالي پر وړاندې د غبرګون او مخنيوي معيارونه(GBViE) او له جنسي ځورونې او استثمار څخه مخنيوی (PSEA)

د روان کال په لومړۍ نيمايي کې، يونيسف له ۲.۲ ميليونو څخه ډېرو ماشومانو او پالونکو ته (۳۵ سلنه ښځو) ته د رواني روغتيا او رواني ټولنيز ملاتړ خدمتونه وړاندې کړي دي. نږدې ۳۸۰۰۰ ماشومانو (۲۹ سلنه ښځو) ته د قضيې د مديريت خدمتونه وړاندې شوي، چې په هغو کې د کورنۍ تعقيب او د بې کسه او جلا شويو ماشومانو بيا يوځای کول هم شامل وو. يونيسف او همکارو ادارو جنسيتي تاوتريخوالو ته د غبرګون، د مخنيوي او کمولو د اقداماتو او د بديلو عملياتي لارو چارو لکه له ليرې څخه د قضيو مديريت، ټولنيز پوهاوی، کور په کور پوهاوی او له نورو پروګرامونو سره په مدغمولو له ۲۰۱۰۰۰ ډېرو نجونو، ښځو او هلکانو ته دغه خدمتونه رسېدلي دي. د چاودېدونکو توکو له خطر سره د مبارزې په موخه له ۲ ميليونو څخه ډېرو ماشومانو او پالونکو ته د چاودېدونکو توکو د خطرونو په اړه روزنه ورکړل شوه، چې ۷۶۳۰۰۰ (۳۸سلنه) يې نجونې او ښځې وې. يونيسف همداراز د راپور ورکولو او ځارنې د ميکانيزم د معلوماتو مديريت سيستم دويمه بڼه په ملي کچه او په ختيځو او سويلي سيمو کې پيل کړه. پر دې سربېره، يونيسف په شمال او شمال ختيځو سيمو کې ۳۰۲ هغه ماشومان چې مخکې يې له وسله والو ځواکونو او ډلو سره تړاو درلود خوشي او په ټولنه کې د بيا يو ځای کېدو ملاتړ وکړ.

په جون مياشت کې، يونيسف ۲۸۴۱۲۳ ماشومان او پالونکو (۴۲سلنه نجونو او ښځو) ته د ماشومانو د خونديتوب په برخه کې خدمتونه وړاندې کړي دي چې په هغو کې د مخنيوي تدابير، د خطر کمولو ستراتيژۍ او د مستقيم غبرګون خدمتونه شامل دي. له ۱۱۲۰۰۰ څخه ډېرو ماشومانو او پالونکو (۳۳سلنه ښځو) د رواني روغتيا او رواني ټولنيزو خدمتونو معلوماتي پيغامونه ترلاسه کړي او د ماشومانو لپاره د مناسبو ځايونو، روغتيايي مرکزونو، د انتقالي پالنو د مرکزونو او ښوونځيو له لارې دغه پيغامونه ترلاسه کړي دي؛ په دې کې نور ۲۷۳۵ زيانمن ماشومان او ۶۲۶ بې کسه او جلا شوي ماشومان (۲۵ سلنه يې نجونې دي) هم شامل دي چې د قضيې د مديريت خدمتونو ته لاسرسی لري. په جون مياشت کې د ماشومانو د ساتنې په لومړۍ ليکه کې ۱۲۱۶ کارکوونکي (۴۰سلنه ښځينه) ګومارل شوي؛ له دې ډلې څخه ۴۴ ښځينه کارکوونکو د ملګرو ملتونو په ادارو او نادولتي مؤسسو کې د ښځينه کارکوونکو د کار کولو د بنديز له امله خپل فعاليتونه وځنډول. ستراتيژيک موافقتونه، لکه په ملي او سيمه‌ييزو کچو کې له ليرې څخه د قضيې د مديريت د لارښودونو او عدالت غوښتنو کارول د خدمتونو دوامدار وړاندې کول ممکنوي. يونيسف د جنسي ځورونې او استثمار د مخنيوي، راپور ورکولو او غبرګون پياوړي کولو ته دوام ورکوي. په جون مياشت کې، يونيسف له ټولو ساحوي دفترونو څخه د جنسي ځورونې او استثمار څخه د خونديتوب ۲۸ استازي (۱۲ نارينه او ۱۶ ښځينه) وروزل. د جنسي ځورونې او استثمار د مخنيوي په اړه به دغه استازي له پلي کوونکو همکارو ادارو څخه د لومړۍ ليکې کارکوونکو ته روزنه ورکړه. يونيسف همداراز د U-Report(ستاسو راپور ورکوونکي) پلټفارم له لارې له بېړني حالت څخه اغېزمنو شوو خلکو ته د جنسي ځورونې او استثمار د مخنيوي په اړه معلومات رسوي. دا پلټفارم هره مياشت له ۹۰۰۰۰ څخه ډېرو خلکو (په ځانګړې توګه ځوانانو) ته معلومات رسوي.

[5] د کمپاين وروستی راپور به راتلونکې مياشت وړاندې شي.

## اوبه، روغتیا ساتنه او پاکوالی (WASH)

د روان کال په لومړۍ نیمايي کې، په ۳۳ ولایتونو[6] کې نږدې ۶۳۲۰۰۰ خلکو ته د پاکو اوبو، له ۳۵۴۰۰۰ څخه ډېرو خلکو ته د روغتیا ساتنې، له ۴۶۴۰۰۰ څخه ډېرو خلکو ته د حفظ الصحې د ودې په برخه کې او نږدې ۳۹۳۰۰۰ خلکو ته په دولتي ادارو (روغتیايي مرکزونو او ښوونځیو) کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي اسانتیاوې/ خدمتونه برابر شوي.
په جون میاشت کې، یونیسف په ۱۲ ولایتونو[7] کې له ۱۷۹۰۰۰ څخه ډېرو خلکو ته د څاګانو کیندلو، بیارغونې او د لمریزې برېښنا په واسطه د اوبو رسولو د سیستمونو د نصبولو او د کورنیو د اوبو نښلولو له لارې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې دي. پر دې سربېره، په ۸ ولایتونو[8] کې له ۵۰۰۰۰ څخه ډېرو خلکو د ښځو او نرانو لپاره د جلا روغتیا ساتنې مرکزونو ته لاسرسی موندلی. پر دې سربېره، له ۱۲۴۰۰۰ څخه ډېرو خلکو د حفظ الصحې د ترویج معلومات ترلاسه کړل چې په ۱۱ ولایتونو[9] کې یې په صابون سره د لاسونو پر مینځلو، شخصي حفظ الصحې، د کور په کچه د پاکو اوبو پر مدیریت، د پاکې حفظ الصحې پر مرکزونو او د نس ناستې ناروغۍ د لېږد پر لارو تمرکز درلود. پر دې سربېره، ۱۳۶۵۰۰ خلکو په ۱۵ ولایتونو[10] کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي اړتیا وړ توکي ترلاسه کړل، چې په هغو کې د کورنۍ حفظ الصحې او د مصرف وړ بستې، د اوبو پاکولو مواد، سطلونه او د اوبو بوشکې شاملې دي. یونیسف همدارز د روغتیا نړیوالې ډلې یا (IMC) په مرسته د تورخم په پوله کې له پاکستان څخه راستنېدونکو ته د حفظ الصحې ۳۰۰۰ بستې ووېشلې.

یونیسف په غزني، نورستان او ننګرهار ولایتونو کې په درېیو روغتیايي مرکزونو کې د اوبو رسولو، حفظ الصحې او د لاسونو مینځلو اسانتیاوې بیا رغولې، چې د ۳۱ روغتیايي کارکوونکو په ګډون شاوخوا ۳۶۸۲ کسان ترې ګټه اخلي. دغه راز یونیسف په نورستان ولایت کې په درېیو ښوونځیو کې د لاس مینځلو د ځایونو، د اوبو د نلونو، د حفظ الصحې د اسانتیاوو د جوړولو او بیارغونې له لارې د ښوونځیو ۱۲۲۳ ماشومانو او ۲۶ ښوونکو ته د پاکولو اوبو اسانتیاوې بیارغولې. په ټولیز ډول ۴۰۹۵ خلکو ته په ښوونځیو او روغتیايي مرکزونو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي لومړني خدمتونه رسېدلي.

د حاکمو چارواکو لخوا د غیر دولتي همکارو مؤسسو لپاره د هوکړه لیک په پروسېس کې ځنډ او د ملګرو ملتونو په ادارو  او نادولتي مؤسسو کې د ښځینه کارکوونکو پر کار کولو بندیز پر وخت سره د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي د خدمتونو پر رسولو او په ځانګړې توګه د حفظ الصحې د کچې لوړولو/ د ټولنیز مشارکت پر اقداماتو اغېز کوي. په ملي کچه له شدید نس ناستي سره مبارزه د مفصل لېست د نه شتون له امله اغېزمنېږي هغه لېست چې مهم معلومات لکه د شکمنو / تایید شویو قضیو دقیق ځایونه په سمه توګه منعکسوي او د قضیې په ساحه کې د موخې وړ اقداماتو پر کړنلاره اغېز کوي.

## د ټولنې او سلوک بدلون او اغېزمنو شویو کسانو ته حساب ورکول

د ۲۰۲۲ کال له جنورۍ څخه تر جون میاشتې پورې، یونیسف نږدې ۹.۴میلیونه خلکو ته د ملي رسنیو د کمپاینونو، معلوماتو خپرولو، ښوونیزو او ارتباطي موادو، د همکارو ادارو، ټولنیزو کارکوونکو او ټولنیزو شبکو له لارې د ژوند ژغورونکو مهمو موضوعاتو لکه کوویډ-۱۹، شدید نس ناستي، روغتیا او تغذیې، د ماشومانو خوندیتوب او ښوونیز خدمتونه او د عامې روغتیا نور بېړني موارد وړاندې کړي دي. یونیسف د ۱۶۷۰۰۰ څخه له ډېرو خلکو سره د مشارکتي چلند د بدلون په اقداماتو کې همکار دی. اغېزمنو شویو کسانو ته د حساب ورکولو د ډېرولو لپاره، د پروګرامونو د طرحې او وړاندې کولو په اړه د نظرونو او اندېښنو راټولولو لپاره بېلابېل چینلونه (ټولنیز هڅوونکي، ټولنیز مشارکت او د نظر غوښتنې مرکزونه، ټولنیز جوړښتونه او همکارې ادارې) کارول شوي او د کال له پیل راهیسې له ۳۱۰۰۰ څخه ډېر انفرادي نظر غوښتنې راټولې شوې دي. د هغو پروګرامونو د اقداماتو په اړه شکایتونه او نظر غوښتنې چې یونیسف یې ملاتړ کوي، د لا ډېر تعقیب لپاره د یونیسف اړوندو پروګرامونو او برخو ته راجع کړل شوې. په کلیدي ننګونو کې د سیمه‌ییزو پلي کوونکو همکارو ادارو لپاره د هوکړه لیکونو په چمتو کولو کې د حاکمو چارواکو ځنډ شامل دی.

اغېزمنو شویو خلکو ته د حساب ورکولو د یوې برخې په توګه، یونیسف په ټول هېواد کې د ډېرې آنلاین او آفلاین نظر غوښتنې د پلټفارمونو له لارې د پروګرام د طرحې، وړاندې کولو او د ټولنیزو نظرونو او د یونیسف لخوا د ملاتړي پروګرام د اقداماتو په اړه د نظر غوښتنې د راټولولو ملاتړ کوي. په جولای میاشت کې د ټولنیز مشارت او نظر غوښتنې مرکزونه له ۵۹ څخه ۸۴ ته لوړ شوي، چې د ټولنې ۹۳۰۱ فردي نظر غوښتنې یې ثبت کړې دي.

په جون میاشت کې، نږدې ۵۶۹۰۰۰ خلک د ډله‌ییزو رسنیو د مشارکت له لارې ژوند ژغورونکي پیغامونو ترلاسه کړي چې د کوویډ-۱۹ پر واکسین کولو یې تمرکز درلود. پردې سربېره، له ۱۶۶۰۰۰ څخه ډېرو خلکو (۴۹سلنه ښځو او ۵۱ سلنه نارینه‌وو چې ۳۵سلنه یې ځوانان او تنکي ځوانان وو) د خوارځواکۍ د مخنیوي، د بدن د معافیت لوړولو، د جنسیتي تاوتریخوالي، رواني هوسایني، د شدید نس ناستي د مخنیوي، د څښاک پاکو اوبو د خوندي مدیریت او پاکولو، په ازاده فضا کې له رفع حاجت څخه د ډډه کولو او د شخصي او کورنۍ حفظ الصحې د عملي کولو په اړه د ټولنیز مشارکت د ناستو له لارې په ټولنیزو  خبرو اترو کې برخه واخیسته.

## جنسیت او د تنکیو ځوانانو پرمختګ او ګډون

د راپور ورکولو په موده کې، څه باندې ۴۵۰۰۰ ښځو او نجونو په مرکزي، ختیځو او شمال/شمال ختیځو سیمو کې د ښځو او نجونو د ۵۰ خوندي ځایونو له لارې د مور او ماشوم روغتیا، تغذیې، د حفظ الصحې د پوهاوي، ګوزڼ (پولیو) واکسین، رواني روغتیا او د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون خدمتونو په اړه اړین معلومات او خدمتونه ترلاسه کړل. د ټولنیزو خبرو اترو او د پوهاوي لوړولو د غونډو له لارې یونیسف له ۱۷۶۰۰۰ څخه ډېرو خلکو ته د جنسیتي ناوړه نورمونو، د جنسیتي تاوتریخوالي د موضوعاتو، روغتیا، د میاشتنۍ ناروغۍ د حفظ الصحې، تغذیې او په ټولیزه توګه د ښځو او نجونو د خوندیتوب په اړه پیغامونه رسولي دي. پر دې سربېره، ۳۷۳۶ همکارو ادارو او د لومړۍ لیکې کارکوونکو د جنډر د ادغام او په بشري پروګرامونو کې د ښځو/نجونو د پیاوړتیا په اړه روزنه ترلاسه کړه .

---

[6] یوازې له بدخشان ولایت پرته په ټولو ولایتونو کې
[7] بغلان، بلخ، بامیان، فاریاب، غور، هرات، خوست، کنړ، لغمان، ننګرهار، نورستان او سرپل
[8] بادغېس، دایکندي، فاریاب، هلمند، کندهار، ننګرهار، زابل او سرپل.
[9] بلخ، دایکندي، فراه، کندهار، کاپیسا، لوګر، میدان وردګ، ننګرهار، پکتیکا، پنجشېر او پروان.
[10] بلخ، دایکندي، کندهار، کاپیسا، ارزګان، فراه، هرات، زابل، لوګر، میدان وردګ، ننګرهار، پکتیکا، پنجشېر او پروان.

په جون میاشت کې، څه باندې ۶۰۰۰ خلکو (۶۲سلنه ښځو او ۳۸سلنه نجونو) ته په مرکزي، ختیځو او شمال/شمال ختیځو سیمو کې د ښځو او نجونو د ۵۰ خوندي ځایونو له لارې د مور او ماشوم روغتیا، تغذیې، د حفظ الصحې د پوهاوي، ګوزڼ (پولیو) واکسین، رواني روغتیا او د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون خدمتونو په اړه اړین معلومات او خدمتونه وړاندې شول. په کابل ولایت کې د وټسپ له لارې د پوهاوي دوولس پر لیکه (انلاین) ناستې وشوې چې شاوخوا ۱۲۰ ښځو او نجونو پکې ګډون وکړ. په ۱۲ ولایتونو[11] کې نږدې ۲۸۷۷۹ خلکو[12]ته د جنسیتي ناوړه نورمونو، د جنسیتي تاوتریخوالي د موضوعاتو، روغتیا، د میاشتنۍ ناروغۍ د حفظ الصحې، تغذیې او په ټولیزه توګه د ښځو او نجونو د خوندیتوب پیغامونو په اړه بحثونه شوي دي. پر دې سربېره، په ختیځو او شمالي سیمو کې ۹۷ کسانو د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنې او جنسیتي تاوتریخوالي سره د مبارزې او د جنسیتي روغتیا پاملرنې په اړه د ماسټر روزونکو په توګه روزنه ترلاسه کړې. په بدخشان ولایت کې د ۱۵۰ ښځو او نجونو لپاره له جنسي ځورونې او استثمار څخه د مخنیوي په اړه  د پوهاوي پنځه غونډې وشوې او په بدخشان ولایت کې ۱۲۹ تنو (۷۶ ښځو او ۵۳ نجونو) د ځان پاکوالي بستې/کڅوړې ترلاسه کړې.

## ټولنیز خوندیتوب او د بشري مرستو د نغدو پیسو لېږد

یونیسف د ۲۰۲۳ کال له جنورۍ څخه تر جون میاشتې پورې په بدخشان، غور او پنجشېر ولایتونو کې د ژمي موسم ته د غبرګون د یوې برخې په توګه له ۸۰۶۵۸ څخه ډېرو زیانمنو کورنیو ته یو ځل بیا څو اړخیزه نغدي مرستې برابرې کړې، چې د ماشومانو د هوساینې لپاره دغو مهمو توکو او خدماتو ته د لاسرسي لپاره اړینې دي چې د ژمي په موسم کې له مالي ستونزو سره د مبارزې د منفي لارو چارو لکه د ماشومانو کار، په ماشومتوب کې ودونه، د ښوونځي پرېښودل او  داسې نورو مخنیوی کوي. یونیسف د خوراکي توکو په برخه کې د مرستې په موخه د کنړ ولایت د دانګام په ولسوالۍ کې ۱۸۲۳ کورنیو او په دایکندي ولایت کې ۱۸۶۵۸ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې. یونیسف د نورستان او جوزجان ولایتونو په ټولو ولسوالیو کې له ۸۶۳۱۱ مستحقو کورنیو سره د نغدي مرستو لومړی پړاو پیل کړ ترڅو په ښوونځیو کې د تنکیو نجونو د شاملولو او زده‌کړو ته د دوام ورکولو په برخه کې اسانتیاوې برابرې شي. په جون میاشت کې، یونیسف د نورستان په درېیو ولسوالیو کې ۹۱۲۵ کورنیو او د جوزجان ولایت په دوو ولسوالیو کې له ۶۱۲۷ کورنیو سره د زده کړې په برخه کې نغدي مرسته وکړه. اوس مهال یونیسف په فعاله توګه په محلي کچه له مهمو ادارو سره کار کوي ترڅو د ښځو او نجونو د وړتیا د تصدیق او راجستر اړوندې ننګونې له منځه یوسي.

11 بلخ، بدخشان، جوزجان، سمنګان، سرپل، کندز، بغلان، تخار، لغمان، کنړ او کابل ولایتونه.
12 ۳۶۶۲ هلکان، ۳۸۳۳ نجونې، ۱۰۴۶۹ نارینه، ۱۰۸۱۵ ښځې.